# کاونټرپارټ

COUNTERPART

د کاونټرپارټ نړیوالې مؤسسې خبر پاڼه

د افغان مدني ټولنې د پیاوړتیا نوښت

ګڼه : ۹

سلواغه ۱۳۸۷ – جنوري ۲۰۰۹


## دمېرمنو آواز ددوی تر مشرانو رسېږي

ښځې د افغانستان د نفوسو تقریباً ۴۹٪ تشکیلوي. غربت، نا امني او د محافظه کارۍ دود او دستور په منفي توګه پر افغان مېرمنو باندې اغېز کړی دی او د ژوند اړینو خدمتونو، فرصتونو او منابعو ته یې ددوی د لاسرسي مخه ډب کړې ده. دوی د زور ودونو، فزیکي، جنسي او ذهني تېریو ښکار ګرځول کېږي، او ښوونې او روزنې او عدالت ته یې لاسرسی محدود دی. دا په افغانستان کې د ډیموکراتیک بدلون او نوښت پر وړاندې ډېره جدي ننګونه او خنډ دی.

ددې له پاره چې پرمختګ برمیال او پایښتیز وي، ښځې باید د هېواد د ولسواک پرمختګ په بهیر کې د بدلون د استازو او د ګټو پورته کوونکو په حیث مساوي رول ولوبوي. د افغانستان د ښځو له پاره د عمل ملي پلان (NAPWA)، د ۲۰۰۸م په مې کې تصویب شو، چې پخپل وار بیا د ښځو له پاره د داسې یوه پلان طرحه ده چې ښځې ځواکمنوي او د جنډر ته د جنس په هستوې یا مرکزي ساحو کې د برابرۍ او مساواتو وده ورکوي چې دا بیا د افغان ښځو په مقام او اوسني حالت کې د ګړندي بدلون راوستلو له پاره ډېر مهم دی.

کاونټرپارټ نړیوالې مؤسسې د امریکا د متحدو ایالتونو د نړیوالې پرمختیایي ادارې (یو ایس آی ډي) په مالي مرسته او د افغانستان د ښځو د چارو د وزارت په همکارۍ، د افغان ښځو لومړنۍ شوری د ۲۰۰۸م کال د اکتوبر په ۲۸مه نېټه په کابل کې جوړه کړه. ددغې شورۍ هدف دا و چې د ښځو له پاره د عمل ملي پلان نور هم پراخ کړي او په دې لړ کې د عامو خلکو او دولت پاملرنه اړتیاوو ته او مهالنیو هغو ستونزو ته چې افغاني ښځې ورسره لاس او ګرېوان دي، را واړوي.

په دغه نوښتیزه شورۍ کې د ۳۳ ولایتونو ځخه تر ۵۰۰ تنو زیاتو مېرمنو ګډون وکړ. دوی هغه ستونزې چې ژوند یې ترې اغېزمن شوی دی تر بحث لاندې ونیولې او د ترلاسه کېدونکو لومړیتوبونو داسې لسټ یې برابر کړ چې په لنډه موده کې یې پلي کول شوني او ددوی په ټولنو یا په ټولیزه توګه په افغان ټولنه کې د مثبت بدلون راوستلو له پاره ضروري ګڼل کېږي. (پاتې په ۳م مخ کې)




د افغانستان جمهور رییس جلالتمآب حامد کرزی ښځو د لومړنۍ شورۍ پر مهال د وینا په حال کې — کابل



د ښځو د لومړنۍ شورۍ د ډله ییز کار یوه ګوښه — کابل

## کاونټرپارټ د بشري حقونو د پروژو له پاره د بلاعوضه مرستو د ترلاسه کولو وړاندیزونه اعلان کړل

د ۲۰۰۸م کال د نومبر په ۲۶مه نېټه کاونټرپارټ نړیوالې مؤسسې د بشري حقونو د پروژو له پاره د بلاعوضه مرستو د ترلاسه کولو وړاندیزونه اعلان کړل. چې په ځواب کې یې، کاونټرپارټ نړیوالې مؤسسې د افغان مدني ټولنې د مؤسسو ځخه نولس وړاندیزونه (پروپوزلونه) ترلاسه کړل.

د بلا عوضه مرستو په لړ کې د بشري حقونو پروګرام د آیکس پروګرام یوه مهمه برخه ګڼل کېږي. د بلاعوضه مرستو د بشري حقونو پروګرام په دې هدف را منځته شوی چې مشخص فعالیتونو ته مالي مرستې برابرې کړي، چې په دې توګه د افغانستان د وګړو بشري حقونو ته پراختیا ورکړي او خوندي یې وساتي. د بشري حقونو په پروژو کې ښایي هغه پروژې شاملې وي چې له محرومې یوې ډلې یا ډلو سره کار وکړي چې له خپلو بشري حقونو ځخه خوند واخلي. په دې کې ښایي دغه حقونه شامل وي، خو تر دې پورې به محدود نه وي: "د ژوند ژواک کولو حق، د شخص د امنیت او آزادۍ او اختیار درلودلو حق،" له شکنجې ځخه آزادي او یا هم له "ستم، غیر انساني او د ذلیل کولو له هر ډول شکنجې او عمل ځخه خوندي کېدل." د مذهب او د بیان د آزادۍ حق؛ او د مناسب او کافي ژوند ژواک کولو حق چې د یوه شخص یا یوې کورنۍ ژوند روغتیا او هوساینې له پلوه مصؤون وي او د خوړو، پاکو اوبو، جامو، کور او روغتیاپالنې او د اړتیا وړ ټولنیزو خدمتونو ته یې باید لاس رسي وي. د بلاعوضه مرستو پروګرام همدا راز د حکومت له خوا د بشري حقونو د اعادې کولو د مکلفیتونو د ځارنې د فعالیتونو ملاتړ هم کوي. او د جنس، ټولنې، قومیت، مذهب او نورو دغه ډول حالتونو په نظر کې نیولو پرته د ټولو له پاره د بشري حقونو د اعادې غوښتنه کوي. پر دې سربېره، د بلاعوضه مرستو پروګرام هغه نوښتیزې پروژې هم تمویلوي چې د هغو خلکو چې حقونه یې د نورو له خوا پایمال شوي دي له پاره کار کوي او دوی هغه خلک چې بشري حقونه یې پایمال کړي دي حساب کتاب ترې اخلي.

په هر پروپوزل تر ځانګړي بحث وروسته د کاونټرپارټ د پروپوزلونو د کتنې کمېټې پرېکړه وکړه چې کومه یوه وړاندیز کوونکې ټولنه باید خپل بشپړ پروپوزل د دوی د لومړني وړاندیز تر منلو وروسته کاونټرپارټ ته وړاندې کړي. (پاتې په ۴م مخ کې)

## په ACSF ټولنه کې د آیپکس ټیم د اډویکسی د پیژندګلوي په هکله د آیپکس د مدني ټولني د مرکزونو کارمندانو ته د روزونکي له پاره روزنه ټرینینګ ورانډي کړ

د ۲۰۰۸م کال د ډیسمبر میاشتي له ۱۴ تر ۱۸مي نېټي پوري د افغان مدني ټولني مجتمع ACSF ټولنه کي د آیپکس ټیم یو پنځه ورځنی ټرینینګ د اډویکسی پیژندګلوی په اړه په کندهار او فاریاب ولایتونو کي د آیپکس د مدني ټولني د ملاتړ ۹ مرکزونو کارمندانو ته ورانډي کړ. په دغه ټرینینګ کي مختلف شمیر موضوعات شامل وو، چي له جملي څخه یي د اډویکسی اساسي مفهوم، د اډویکسی دوران یا سایکل، د ستونزي تحلیل، او د نښه شوو یا مخشصو ټولنو انتخاب په کي شامل و.

د ۲۰۰۸م کال د ډسمبر په ۲۱مه، یو ورځنی روزنیز ټرینینګ د روزونکي له پاره د اډویکسی د پیژندګلوی په هکله د فاریاب او کندهار ولایت د مدني ټولني د ملاتړ د مرکزونو د آیپکس پروژې اړوندو د ټرینینګ مسؤولانو او منیجرانو له پاره دایر کړل شو.



*د افغان مدني ټولني مجتمع ټولني د آیپکس کارمندان د کندهار او فاریاب ولایتونو د مدني ټولني د ملاتړ د مرکزونو د کارمندانو له پاره د اډویکسی د پیژندګلوی ټرینینګ ورانډي کوي- کابل*

## کاونترپارټ د مدني ټولني په اړه راډیویي ګردی میز دایر کړ

د ۲۰۰۸م کال د ډسمبر په ۳۱مه نېټه کاونترپارټ د مدني ټولني او د مدني ټولني مؤسسو پر مفهوم باندې راډیویي ګردی میز دایر کړ چي د ټول افغانستان په کچه خپور کړل شو. د ګردی میز دغه ۳۵ دقیقه ییز بحث د مدني ټولني مفهوم واضح کړ او په افغانستان کي یې د اوسمهالو او راتلونکو پرمختیایي هڅو په لړ کي د مدني ټولني د مؤسسو د رول او ونډې په اړه رڼا واچوله. په دغه ګردي میز کي د اقتصاد وزارت د انجوګانو د ریاست رییس او د ښځو د ټولو اتحادیو رییسي برخه اخیستې وه، چي دغه دواړه شخصیتونه په افغانستان کي د مدني ټولني د پرمختیایي هڅو پوه او خواکمن پلویان دي. د ګردي میز بحث د دوو رسنیو له خوا خپور کړل شو، د افغانستان د ملي راډیو له لارې او د راډیو کلید له لارې. د افغانستان ملي راډیو دغه ګردی میز دوه ځله خپور کړ، چي تقریباً په ټول هېواد کي د ځلور دېرشو ولایتونو په کچه تر شپږ ملیونه پوري اوریدونکي لري.

پر دې سربېره دغه ګردی میز د کلید راډیو له لارې هم خپور شو، چي په دې توګه په کابل او د کابل په ګاونډیو ولایتونو کي د نفوسو د زیاتي برخي اوریدونکو ته د دغه بحث د رسېدني واړ راکوي. که څه هم دغه ډول ګردیو میزونو له سلسلي څخه دا لومړنی یو دی او کاونترپارټ په دې خبره ډاډمن دی چي په پراخه کچه د بریښنایي رسنیو له لارې د مدني ټولني آواز خپرول به د کاونترپارټ په دې هلو ځلو کي چي پر معلوماتو د ولاړو پالیسیو او د کافي سرچینو د اختصاصولو پرېکړې چي په افغانستان کي په مدني ټولنه او هم د مدني ټولني د مؤسسو په پرمختګ پوري اړه لري او ګرندی کوي یې، رسنی به په دې هکله زیاته همکاري وکړي. ددغه ډول نوښتونو په اړه د کاونترپارټ د پخوانیو تجربو پر بنسټ، تمه ده چي دغه ګردي میزونه به هم د اړوندې مدني ټولني، د دولتي ذیدخله اړخونو او د عامو وګړو تر منځ په ورته شان انعکاس وکړي.

## کاونترپارټ د آیپکس له شریکبانو ټولنو سره د مؤسساتي ملاتړ د بلاعوضه مرستو د نوي دورې تړون لاسلیک کړ

د ۲۰۰۸م کال د ډسمبر په میاشت کې، کاونترپارټ د آیپکس د ملاتړ له نهو مرکزونو سره د مؤسساتي ملاتړ د بلاعوضه مرستو تړون لاسلیک کړ. دغه بلاعوضه مرستې به په آیپکس پورې د اړوندو ټریننګونو او مؤسساتي پرمختیا (OD) د فعالیتونو له پاره وي چي دوره یې د روان ۲۰۰۹م کال له جنورۍ څخه د سپتمبر تر میاشتې پورې ده.

دغه مالي ملاتړ چي د بلاعوضه مالي مرستو د پروګرام له خوا ورکول کېږي، شریکبانو مؤسسو ته ددې توان ورکوي چي خپل مؤسساتي داخلي ظرفیت لوړ کړي او دغه راز ددوی په ساحه کې د مدني ټولني نښه شوو مؤسسو ته د ظرفیت لوړولو او تخنیکي مرستو د برابرولو مرستي برابروي. د مؤسساتي ملاتړ بلاعوضه مرستي د هرې یوې مؤسسې د طرحه شوي کاري پلان سره سم او د بلاعوضه مرستو د پروپوزلونو له مخې ورکول کېږي.

## د کاونترپارټ د کارمندانو له پاره د بشري حقونو ټرینینګ ترسره شو

د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمیسون د کاونترپارټ د مخکښ اداري ټیم غړو ته د بشر د حقونو په اړه شپږ ورځنی ټرینینګ وړاندې کړ. د کاونترپارټ ټولو دوولس تنو چي پنځه تنه یې ښځینه کارمندانې وې په دغه ټرینینګ کې ګډون وکړ. دغه ټرینینګ په مجاني توګه د کاونترپارټ او د بشر د حقونو د خپلواک کمیسون تر منځ د دوه اړخیز تړون له مخې ورکړل شو.

د ټرینینګ په دوره کې، ګډونوالو د بشر د حقونو د تاریخي یون، د بشر د حقونو نړیوالو تړونونو، د بشر د حقونو د نړیوالو کنوانسیونونو د تطبیق په اړه د هېوادونو د مسؤولیتونو او د بشر د حقونو د نړیوالي اعلامیې او د افغانستان د اساسي قانون تر منځ د مقایسې په اړه ډېر نوي شیان زده کړل.



*د کاونترپارټ د کارمندانو له پاره د بشري حقونو ټرینینګ- کابل*

## د افغان مېرمنو آواز ددوی تر مشرانو ....

د شورى په لومړۍ ورځ ګډونوالې په ٦ كاري ګروپونو ووېشل شوې چې د عمل د ملي پلان دغه شپږ مهم ستونونه تر بحث لاندې ونيسي: (١) امنيت؛ (٢)قانوني خونديتوب او بشري حقونه؛ (٣) سرمشري او سياسي ګډون ونډه؛ (۴) اقتصاد، كار او غربت؛ (۵)روغتيا؛ او (٦) ښوونه او روزنه.

د شورى د لومړۍ ورځې په پاى كې، د هر ګروپ آسانچارو، د ښځو د چارو وزيره او مرستياله يې او د ولسي جرګې غړو په شريكه توګه د ښځو د لومړنۍ ورځې د هر كاري ګروپ لومړيتوبونه د ښځو د لومړنۍ شورى په پريكړه ليک كې سره را غونډ كړل او د دغې شورى په دويمه ورځ يې د سپارښتنو دغه پريكړه ليک د افغانستان ولسمشر محترم حامد كرزي ته وړاندې كړ. ولسمشر حامد كرزي ژمنه وكړه چې افغان دولت به د ښځو د مقام په ښه كولو كې د ډاډ وړ هڅې او هاند كوي. ولسمشر كرزي دغه راز د هېواد د رغونې په هڅو او بهير كې د ښځو د ګډون ونډې پر اهميت ټينګار وكړ او په دغه دوه ورځنۍ شورى كې يې د مېرمنو په ګډون خوښي څرګنده كړه.

د ښځو لومړنۍ شورى د افغانستان ښځو ته د پرېكړو كولو، د ښځو د ځواكمنولو او د افغان ښځو او نارينه وو د ښې راتلونكې له پاره د جنډر د مساواتو پر وړاندې د مهم ګام اخيستلو لومړنۍ فرصت برابر كړ. له بدخشان ولايت څخه نازيه بهارستاني چې په دې شورى كې يې ګډون كړى وو، وويل:"موږ ددغې تاريخي شورى د جوړوونكو او تنظيموونكو څخه ډېره زياته مننه كوو، چې د افغان ښځو له پاره يې داسې زمينه مساعده كړه چې آواز يې ترمشرانو پورې ورسوي." ددغې سترې برميالې شورى څخه وروسته، چې د ټول هېواد او بهرنۍ نړۍ په كچه يې انعكاس وكړ، ګډونوالو په دې ټينګار وكړه چې كاونټرپارټ دې د ښځو د لومړنۍ شورى ابتكار همداسې برحال وساتي او د داسې يوه ميكانيزم د را منځته كېدو ابتكار دې په لاس كې واخلي چې د دولت له خوا د ښځو له پاره د عمل د ملي پلان تطبيق له نږدې وڅاري.

## كاونټرپارټ او WASSA ټولنې په اسلام كې د ښځو حقونه تر نامه لاندې ټريننګ داير كړ

د كاونټرپارټ د جنډر څانګې د ښځو د فعاليتونو او د ټولنيزو خدمتونو د اتحاديې (WASSA)په مرسته په اسلام كې د ښځو حقونه تر سرليک لاندې د آپيكس د شريكباڼو ټولنو د جنډر مسؤولانو له پاره يو ورځنى ټريننګ داير كړ. د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې(AREU) د دريو كارمندانو په شمول په دغه ټريننګ كې ١١ تنو ګډون كړى و. دغه ټريننګ جالب او د آپيكس د شريكباڼو ټولنو له پاره ګټور و، ځكه چې په دغه ټريننګ كې د ښځو پر حقونو د اسلام او د افغانستان د اساسي او مدني قانون له نظره رڼا اچول شوې وه.

## كاونټرپارټ او آى سي اين ايل د نادولتي ټولنو د قانون په اړه ښوونيز مواد خپاره كړل

د نادولتي مؤسسو د قانون تر نافذېدو را وروسته، د په ګټه نه ولاړ قانون له پاره نړيوال مركز(ICNL) چې د آپيكس پروګرام په تطبيق كې د كاونټرپارټ يوه مخكښه شريكباڼې ټولنه ده، د ښوونيزو موادو سلسله يې د انجوګانو د قانوني كاري چاپېريال په اړه د پوهاوي په اړه خپره كړې ده. ددغو موادو ځينې يې ډېر آسانه لوستل كېږي او داسې بروشورونه دي چې مراجعين په آسانه توګه استفاده ترې كولى شي او له افغانانو سره مرسته كوي چې د قانوني سيستم لارښودي شي او دغه راز له انجوګانو سره مرسته كوي چې خپل حقونه او مسؤوليتونه په ښه توګه وپېژني. د دغو موادو نور يې په ژوره توګه كښل شوي لارښودونه او تبصرې دي، چې دا بيا د دولتي چارواكو، قانونپوهانو(وكيلانو) او علمي كدرونو له پاره دي. آى سي اين ايل ټولنه اوسمهال په دې خبره ډاډمنه ده چې دغه لارښوونكي مواد دولت، ولسي جرګې، انجوګانو او عامو وګړو ته رسېږي. تر دې مهاله پورې كاونټرپارټ او آى سي اين ايل دغه لاندې مواد خپاره كړي دي:

د انجوګانو د ثبت او راجستر بروشور: دغه بروشور د انجوګانو د ثبت او راجستر د بهير ملاتړ كوي. دا د هغو افرادو او مؤسسو ملاتړ كوي چې په افغانستان كې د مؤسسې د تأسيس هيلې لري.

د انجوګانو د ريپورټ وركولو لارښود: دغه لارښود هم د انجوګانو له پاره لارښوونې لري چې څه ډول به د ريپورټ وركولو له شرطونو او اړتياوو سره سم ريپورټ وړاندې كوي او دغه راز دولتي چارواكو له پاره هم دى چې په متواتره او مسلكي توګه قانون تطبيق كړي. تر خپرېدو وړاندې دغه لارښود د اقتصاد وزارت د انجوګانو د رياست، د افغانانو له پاره د مرستو د انسجام د ادارې(ACBAR) او په افغانستان كې د نورو انجوګانو له خوا وكتل او و ارزول شو. دغه لارښود د حكومت د څارنې او ريپورټ وركولو په اړه د نړيوالو مروجو قوانينو په اړه معلومات لري، دغه راز په افغانستان كې د ريپورټ وركولو د بهير په اړه د پوښتنو او ځوابونو او دا چې څه ډول به د ريپورټ وړاندې كولو فورمې ډكېږي؛ په اړه تشريحي برخې لري.

د انجوګانو د قانون په اړه تبصره : دغه تبصره په ژوره توګه د انجوګانو قانون تحليل او تشريح كوي چې قانونپوهان، دولتي چارواكي او د مدني ټولنې متخصصان د يوې لارښودې مرجع او ښوونيزې وسيلې په توګه استفاده ترې كولى شي. دغه راز دغه تبصره د يوې ښوونيزې وسيلې په توګه د افغانستان قوانين له نړيوالو معيارونو سره پرتله كوي، دغه تبصره په افغانستان كې د اصلاحاتو د راوستلو د روانو هلو ځلو له پاره يوه ارزښتناكه سرچينه هم ده.

پر مدني مؤسسو د اغېز لرونكو قوانينو لارښود: دغه لارښود په اصل كې د خلاصې ټولنې د انسټيټيوټ(OSI) په وسيله د ICNL په مرسته خپور شوى دى، چې د كاونټرپارټ په وسيله دري ژبې ته ژباړل شوى دى. دغه لارښود د قانون پوهانو او دولتي چارواكو له پاره د ښو نړيوالو معيارونو او تر ټولو غوره مروجو قوانينو په اړه يوه مهمه سرچينه ده، او په افغانستان كې د راتلونكو اصلاحي هلو ځلو په بهير كې ښايي مرستندوى وي.

پورته ذكر شوي ښوونيز مواد په انګريزۍ ژبه او په دوو محلي پښتو او دري ژبو ترلاسه كيدلى شي. د انجوګانو د ثبت او راجستر لارښود او د خلاصې ټولنې د انسټيټيوټ OSI د لارښود ډېر شمېر نسخې د انجوګانود د هماهنګۍ د ادارې، د انجوګانو د رياست او د آپيكس د شريكباڼو مؤسسو له خوا په كابل او د هېواد په ټولو ولايتونو كې وېشل شوې دي. كاونټرپارټ او آى سي اين ايل به د انجوګانو له خوا د ريپورټ وړاندې كولو لارښود او د انجوګانو د قانون په اړه تبصره د ټول هېواد په كچه لېوالو او ذيدخله اړخونو ته ووېشي.



## د بریاوو کیسه

**کاونټرپارټ او د په ګټو نه ولاړ قانون له پاره نړیوال مرکز(ICNL) د انجوګانو د ریاست سره کار کوي چې د انجوګانو د قانون د تطبیق له پاره یې کاري ظرفیتونه لوړ کړي**



*د اقتصاد وزارت د انجوګانو د ریاست کارمندان ـــــ کابل*

> *"موږ د انجوګانو په ریاست کې یوازې څو پایی کمپیوټرونه لرل، خو دا چې چا ور څخه استفاده نه شوای کولای، نو همداسې بې ګټې پراته وو. اوسمهال تقریباً ۱۲ تنه کارمندان کولی شي له کمپیوټر نه کار واخلي او په ورډ او ایکسیل پروګرامونو کې کار وکړي، اوسمهال موږ نورو کمپیوټرونو ته اړتیا لرو."*
>
> *(د انجوګانو د ریاست رییس*

دا چې دولتي ریاست په افغانستان کې د انجوګانو د ثبت او څارنې مسؤولیت لري، د انجوګانو ریاست ددې له امله چې د مسلکي ظرفیت کچه یې ټیټه ده او په ښه توګه خپلې ورځنۍ چارې نه شي ترسره کولی، د خلکو تر نیوکو او انتقاد لاندې راغلی و. له انجوګانو څخه د ریاست د کارمندانو په اړه شکایتونه کېدل چې ګویا دوی د قانون په اړه معلومات نه لري او دا چې د ثبت او راجستر بهیر په نا متوازنه بڼه ترسره کوي، او دا چې د ریپورټ ورکولو شرطونه او اړتیاوې یې نه اټکل کېدونکې یا د اچې د اجرا وړ نه دي.

د په ګټو نه ولاړ قانون له پاره نړیوال مرکز(ICNL) د کاونټرپارټ نړیوالې مؤسسې په مرسته د افغان مدني ټولنې د پیاوړتیا نوښت (آیپکس) پروګرام له لارې د ۲۰۰۵م کال را په دې خوا د انجوګانو د ریاست سره کار کوي چې کاري ظرفیتونه یې لوړ کړي او په دې توګه د انجوګانو قانون په سمه توګه تطبیق کړي. په مرستندویه فعالیتونو کې د دولتي کارمندانو له پاره د انجوګانو د قانون په اړه ښوونیز ورکشاپونه، د افغانستان د قوانینو او د نړیوالو ښو مروجو قوانینو په اړه د ښوونیزو موادو خپرول، د انجوګانو د ریاست له پاره د انجوګانو د کمپیوټري معلوماتي مرکز (ډیټابیس) جوړول او په نږدې تېره موده کې د انجوګانو د ریپورټ ورکولو د فورمو له سره کتل شامل دي. مهمه خبره داده چې دغه د ظرفیتونو د لوړولو هڅې نه یوازې په کابل کې د انجوګانو د ریاست له پاره وې، بلکې په ولایتونو کې د اقتصاد وزارت د ریاستونو هم استفاده ترې کړې ده.

که موږ د انجوګانو د ریاست د ۲۰۰۵م کال ظرفیتونه له اوسمهالو ظرفیتونو سره پرتله کړو پایلې یې جوتې دي، یعنې دا چې ډېر زیات توپیر به پکې ووینو. په ۲۰۰۵م کال کې د انجوګانو د ریاست حتا یوه فرد هم د انجوګانو د قانون په اړه معلومات نه درلودل، نن په دغه ریاست کې نږدې ټول کارمندان د انجوګانو د قانون، د ثبت او راجسر او له قانون سره سم د څارنې د بهیر په اړه کم تر کمه لومړني معلومات لري. اوسمهال د ظرفیتونو د کچې د لوړولو له امله د انجوګانو دریاست پر خلاف په شکایتونو کې کمی راغلی دی.

په قانون د پوهېدو او د ظرفیتونو د کچو د ټیټوالي سره سره، د انجوګانو د ریاست کارمندان په انګریزۍ ژبه او د کمپوټر پوهې مهارتونه نه لري، چې دا بیا د نړیوالو نادولتي مؤسسو له استازو سره د مفاهمې پر وړاندې لوی خنډ دی. دغې تشې د راجستر او ثبت بهیر د دواړو لوریو یعنې د انجوګانو د ریاست او د او انجوګانو؛ په ځانګړې توګه د نړیوالو انجوګانو له پاره نور هم ستونزمن کړی دی. اړیکې ترینګلې او اجباري وې او د دغو دواړو سکتورونو تر منځ باور او اعتماد په نشت حساب و.

په نمونه یي توګه، آی سي این ایل په قانون د پوهېدو ظرفیتونه لوړوي، خو خپلې مرستې د هغو ستونزو حل کولو ته هم پراخوي چې په افغانستان کې د انجوګانو ریاست ورسره مخ دی، آی سي این ایل په دې برخه کې یو استثنایي ګام هم اوچت کړی چې د انجوګانو د ریاست له پاره یې هم د انګریزۍ او هم یې د کمپیوټر پوهنې کورسونه دایر کړي. آی سي این ایل د افغان ښځو د حقونو له مؤسسې (AWRO) سره چې د دولتي ادارو له پاره د انګریزۍ ژبې د لیک لوست د کورسونو په وړاندې کولو کې تجربه لري،تړون لاسلیک کړی چې د انګریزۍ ژبې کورس پر مخ بوزي. دغه کورس تقریقاً له دوو کلونو راهیسي روان دی، او د انجوګانو د ریاست د رییس په شمول شپږ تنه کارمندان اوسمهال په انګریزۍ ژبه د خبرو اترو او پوهېدو کې ډېر ماهر او تکړه دي.

د کمپیوټر پوهنې کورس، که څه هم په دې نږدې مهال کې پیل شوی دی، چې دغه کورس بیا د انجوګانو د ریاست ۱۲ تنه ګډونوال لري، چې دغه کورس د بدلون ښې پایلې له ځان سره لري. "موږ د انجوګانو په ریاست کې یوازې څو پایی کمپیوټرونه لرل، خو دا چې چا ور څخه استفاده نه شوای کولای، نو همداسې بې ګټې پراته وو. اوسمهال تقریباً ۱۲تنه کارمندان کولی شي له کمپیوټر نه کار واخلي او په ورډ او ایکسیل پروګرامونو کې کار وکړي، اوسمهال موږ نورو کمپیوټرونو ته اړتیا لرو." (د انجوګانو د ریاست رییس)

د کاونټرپارټ او آی سي این ایل له جاري مرستو څخه ډېره مننه کوو، د یادونې وړ ده چې دغه دواړه کورسونه به د ۲۰۰۹م کال تر پایه پورې برحال وي.

**کاونټرپارټ د بشري حقونو د پروژو ...**د کاونټرپارټ د پروپوزلونو کمېټې د پنځو ټولنو لومړني درخواستونه یا پروپوزلونه ومنل چې دوهم پړاو ته به دغه ټولنې خپل بشپړ پروپوزلونه وړاندې کوي. وروسته له دې چې دغه ټولنې خپل بشپړ پروپوزلونه کاونټرپارټ ته وړاندې کړي، د کاونټرپارټ د پروپوزلونو کمېټه به یو ځل بیا له سره دغه پروپوزلونه ګوري او پرېکړه به کوي چې له دوی څخه کوم بشپړ پروپوزل د تمویلولو حقدار دی.